# د قبر د عذاب يو څو اسباب

09-May-2024



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 9 مئي کال 2024ء د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د قبر د عذاب یو څو اسباب

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---آقا ﷺ پهٔ قبر کښې پهٔ عذاب کښې ولیدل
- ---د قبر د عذاب درې بنیادي اسباب
- --- خیانت د منافقت علامت دے
- --- پهٔ ګستاخِ صحابه باندې لعنت دے

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِىَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مبارک دے: چا چې پهٔ ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولوستو، **الله** پاک پهٔ هغهٔ باندې لس رحمتونه نازلوي او چا چې لس کَرَته درود ولوستو، **الله** پاک پهٔ هغهٔ باندې 100 رحمتونه نازلوي او چا چې 100 کَرَته درود شريف ولوستو، **الله** پاک د هغهٔ د دواړو سترګو ترمينځه وليکي چې دا بنده د نفاق او د دوزخ د وور نه آزاد دے او هغه به د قيامت پهٔ ورځ د شهيدانو سره ساتلے شي. (1)

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحسن پر | سدا سلام کہو عمر بھر درود پڑھو
عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو | خدا کی تم پہ ہو رحمت اگر درود پڑھو(2)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

323

1... معجم اوسط، من اسمہ محمد، جلد:5، صفحہ:252، حدیث:7235۔
2... نورِ ایمان، صفحہ:57۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے.[1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً: نيت وکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قبر عذاب حق دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ياد ساتئ چې د قبر عذاب حق دے، رښتيا دے، دا خبره بالکل ټاکلې شوې ده چې دا اُمّت به پهٔ قبر کښې ازمائيلے شي. پهٔ قرآنِ مجيد کښې پهٔ ډيرو ځايونو کښې د دې ذِکر راغلے دے. الله پاک فرمائي:

مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ۬ (پاره:29، نوح:25)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هغوئي د خپلو خطاګانو په وجه ډوب کړے شول، بيا په وور کښې داخل کړے شول.

د دې آيت پهٔ تفسير کښې ليکلے شوي دي چې د دې وور نه مُراد د برزخ وور (يعني د قبر عذاب) دے يعنې هغوئي د ګناهونو او نافرمانو پهٔ



[1]...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

www.dawateislami.net

سبب وورته وغورځولے شول. [1]

## برزخ څۀ ته وائي؟

مشهور مفسرِ قرآن مفتي احمد یار خان نعیمی رحمۃ اللہ علیہ لیکي: د قبر نه مراد عالمِ برزخ دے. د دې شروع د هر انسان د مرګ نه کیږي او د دې انتها [یعني ختمیدل] په قیامت [قائمیدو] دي، لهذا کوم مړے چې ښخ نۀ کړے شو بلکې وسوزولے شو، یا ډوب کړے شو، یا ازمري وخوړو هغۀ سره هُم د قبر حساب او عذاب شته.[2]

## دا اُمَّت به په خپلو قبرونو کښې ازمائیلے شي

حضرت زید بن ثابِت رضی اللہ عنہ بیانوي: حُضُور نبي کریم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم یو ځل په یو قچر کښیناستو او د یو باغ په لور یې تشریف یوړلو، ناڅاپه قچر ویریدو او ټوپونه وهل یې شروع کړل، چې اوئې کتل نو هلته څلور، پینځۀ قبرونه وو، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم پوښتنه وکړه: دا قبرونو والا څوک پیژني؟ یو کَس عرض وکړو: زۀ یې پیژنم. اوئې فرمائیل: دا کله مړه شوي دي؟ عرض یې وکړو: د شرک او کُفر په حالت کښې مړه شوي وو. په دې باندې رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ووفرمائیل: **بے شکه دا اُمَّت به په خپلو قبرونو کښې ازمائیلے شي.** که دا ویره نه وے چې تاسو به مړي ښخول پریږدئ نو ما به د **الله** پاک نه سوال کړے وو چې دا د قبر



[1]...روح المعانی جزء۲۹، ص۱۲۵۔
[2]...مراۃ المناجیح، جلد:1، صفحہ:125 بتصرف۔

عذاب كوم چې زۀ اورم، تاسو ته هم واوروي. [1]

حضرت ابو سعيد خُدري رضی اللہ عنہ بيانوي: زۀ د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم سره پۀ سفر كښې ووم او هغوئي پۀ خپله سورلۍ روان وو. ناڅاپۀ سورلۍ اوچت ټوپونه وهل شروع كړل، ما عرض وكړو: يا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم ! پۀ دې څۀ وشو؟ اوئې فرمائيل: ده د هغه انسان اواز اوريدلے دے كوم ته چې پۀ قبر كښې عذاب وركولے كيږي. [2]

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عذابِ قبر يو څو ننداري

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! آه! ډيره د ويرې خبره ده.--!! ❀قبر خو اَوَّل ډير تنګ وي ❀بيا د هغه ځائے ډيره وحشت ناكه تيارۀ ❀تنهائي ❀بيا د هغې سره سره د خپلو خپلوانو ❀دوستانو او دنيائي څيزونو د پاتې كيدو غم.--!! ❀ څوک چې ګنهګار دي ❀ د الله او رسول نافرمانۍ كوونكي دي ❀ نـمونځونه قضا كوي ❀ د فرض كيدو باوجود زكوٰة نه ادا كوي ❀د سُود لين دين كوي ❀شرابونه څښي ❀ ګيرې خريوي ❀يا د يو موټې نه يــې كموي ❀ مور پلار ته تـكليف وركوي ❀ غيبتونه او چغلۍ كوي ❀سندرې او سازونه اوري ❀ فلمونه، ډرامې ګوري ❀مسلمانانو ته برناحقه تـكليفونه وركوي ❀ غريبانان تنګوي ❀د خلقو حقونه وهي ❀آه!



1...(مسلم، ص ۱۵۳۴، حديث: ۲۸۶۷)۔

2...(معجم اوسط، ۲/۳۰۴، حديث: ۳۳۶۶)۔

www.dawateislami.net

**اللّٰه** دې نه کړي که نافرمانه او ګناهونه کوونکي د هغۀ د رحمت نه محرومه شو او د ګناهونو په وجه په قبر کښې راګير کړے شو نو د دې تنهايۍ، وحشت او ډيرو غمونو سره سره پرې عذاب هم مُسَلَّط کيدے شي، آۀ! آۀ! د قبر عذاب ډير سخت دے ❀ چې کله ګنهګار قبر ته کوز کړے شي نو قبر يــې په ډيره سخته لهجه کښې رَټي ❀بيا د قبر ديوالونه يو بَل سره را يو ځائے کيدل شروع شي، يو بل ته رانزدې کيږي، رانزدې کيږي، تر دې چې د قبر ديوالونه پۀ مړې داسې راجُخت شي چې د هغه پوښتۍ په يوه بله کښې پيوستې شي ❀د ګنهګار پۀ قبر کښې وور هم بليدے شي ❀ماران لړمانان هم پرې مسلط کيدے شي ❀ د عذاب فرښتې د اوسپنې پۀ ګُرَزونو ډير سخت وهل هم کوي ❀پۀ بعضې ګنهګارانو باندې يو ړوند او کوڼ ځناور مُسَلَّط کړے شي، چې د هغۀ سره د اوسپنې غټ ګُرَز [يعنې ځَټَک] وي، هغه پۀ هٔغه ځټک مړے وهي ❀ بعضې داسې اُووهلے شي چې د هغوئي بدن ويلې شي او وبهيږي، بيا پۀ مخکښيني حالت راشي، بيا اُووهلے شي ❀د بعضو پۀ قبرونو کښې غټ غټ ماران مُسلط کړے شي ❀بعضې د وور پۀ زنځيرونو تړلے شي ❀او بعضو ته د وور جامې اغوستے شي.

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** لږ سوچ خو وکړئ چې آيا دا عذابونه مونږ برداشت کولے شو.-!! آه! د ساه وتو تکليف پۀ خپل ځائے، د دُنيا پريښودو غم پۀ خپل ځائے، د قبر تنهائي، وحشت، تَکه توره تيارۀ، دا ټول غمونه پۀ خپل ځائے دي، بيا د دې سره **اللّٰه** دې نه کړي، **اللّٰه** دې نه کړي.-!! که پۀ مونږ باندې عذاب هُم مسلط کړے شو نو لږ سوچ خو وکړئ.-!! فکر

خو وکړئ! چې هغه وخت به مونږ څهٔ کوو.--!! چا ته به غږ کوو.--!! د چا نه به مدد غواړو.--!! د دې سختو عذابونو نه به څنګه خلاصيږو؟

**الله** پاک دې کرم ووفرمائي! کاش چې د هغه رحمت وشي، کاش چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت رانصيب شي، بَس! چې دا کرم وشي او د دې پهٔ برکت د عذاب نه بچ شو.

**صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـیۡـب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د قبر د عذاب نه پناه غواړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د قبر داسې سخت سخت عذابونه دي، يقين وکړئ! که مونږ چرې پهٔ دې عذابونو کښې راګير شو نو ډيره ګرانه به شي، نن مونږ ژوندي يو، اوس موقع ده، پکار ده چې مونږ د قبر د عذاب نه پناه وغواړو، د حضرت جابِر رَضِيَ اللهُ عَنۡه نه روايت دے چې يو ځل سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو باغ ته تشريف راوړلو، هلته څهٔ قبرونه هم وو، رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله پهٔ هغه قبرونو کښې د کيدونکو عذابونو اوازونه واوريدل نو بے قراره شولو او بهر يې د تشريف راوړلو سره ووفرمائيل: اِسۡتَعِيۡذُوۡا مِنۡ عَذَابِ الۡقَبۡرِ د قبر د عذاب نه پناه وغواړئ.--!! [1]

راځئ چې د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ حُکم باندې د عمل کولو پهٔ نِيَّت د قبر د عذاب نه د **الله** پاک پناه اوغواړو:

نَعُوۡذُ بِاللهِ مِنۡ عَذَابِ الۡقَبۡرِ (مونږ د قبر د عذاب نه پناه غواړو)



[1] ... مسند امام احمد، مسند جابر بن عبد الله، ۵/۱۳، حدیث: ۱۴۱۵۵۔

www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له پکار دي چې مونږ د قبر د عذاب نه پناه هم غواړو، بيا د دې سره سره کوم ګناهونه چې د قبر د عذاب سبب جوړيږي چې د هغو نه هم ځان بچ ساتو. راځئ چې د داسې يو څو ګناهونو په باره کښې واورو:

## د مِتيازو د دارو نه د نۀ بچ کيدو وَبال

حضرت ابو بَکرَه رضی اللہ عنہ فرمائي: يو ځل ما ته دا سعادت نصيب شو چې زۀ د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم سره چرته روان ووم، د تَګ انداز يې دومره د رحمت او شفقت نه ډک وو چې رسول الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم زما لاس په خپل مبارک لاس کښې نيولے وو، دغسې زۀ د لُطف او رحمت په سورې کښې [رسولُ الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم سره] روان ووم چې هٔغه وخت مو دوه قبرونه وليدل، محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د هٔغه قبرونو ليدو سره ووفرمائيل: دا دواړه قبرونو والا په عذاب کښې دي او عذاب هُم د څۀ داسې ګناه په سبب نه ورکولے کيږي د کومې نه چې بچ کيدل مشکل وي. بيا خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ووفرمائيل: څوک شته چې ما له يوه څانګه راوړي. يو کَس زر لاړو او څانګه يې راوړله، خوږ آقا، محبوبِ خُدا صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم هٔغه څانګه دوه ځائے کړه او په دواړو قبرونو باندې يې يوه يوه کيښوده، بيا يې ووفرمائيل: **تر څو پورې چې دا شنې وي، په دوئي باندې به په عذاب کښې کمے وي.** رسول الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دا هم ووفرمائيل چې په دې دواړو باندې د غيبت کولو او د مِتيازو د دارو نه د نۀ بچ

کيدو په سبب عذاب کيږي. [1]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر کمال

د ټولو نه وړومبے خو د دې حديث مبارک په رڼا کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر مبارک کمال ته اوګورئ! دلته دا مه ګڼئ چې په قبر باندې د پاسه يو څو مَنه خاوره ده نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف د دې خاورې نه لاندې اوکتل، نه، نه...! داسې نه ده، هغه جهان بدل دے، قبر ته دننه کتل هسې خو شرعاً صحيح نه دي، البته که د باران وغيره له وجهې قبر برسيره شي نو مونږ ته به هلته هيڅ نه ښکاري، ولې؟ ځکه چې مونږ چې څه وينو، هغه دُنيا ده، د مَړي سره چې څه معاملې کيږي، هغه په دُنيا کښې نۀ بلکې په بَل جهان يعنې په عالَمِ برزخ کښې کيږي. **خو قربان شم!** دا د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر کمال دے، هغوئ صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې دُنيا کښې د ظاهري ژوند سره تشريف فرما وو، دا جهان بيل دے، عالَمِ برزخ بيل جهان دے او هغوئ صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې جهان کښې د موجود کيدو سره بَل جهان اوليدو او په بَل جهان کښې څه کيږي؟ په څه وجه کيږي؟ په دې هر څه هُم پوهه شولو.

## دوه خطرناک ګناهونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې حديث مبارک نه مونږه دا خبره هم زده کړه چې د چغلۍ نه او د متيازو د دارو نه نۀ بچ کيدل هم خطرناک ګناهونه دي. هم



1... مُسندِ اِمام احمد ج ۷ ص ۳۰۴ حديث ۲۰۳۹۵۔

www.dawateislami.net

د دې ګناهونو په وجه هغه مړي په عذاب کښې وو او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي په باره کښې اوفرمائيل: مَا يُعَذِّبَانِ فِيْ كَبِيْرٍ يعنې هغوئي ته عذاب د څه داسې ګناه په وجه نه ورکولے کيږي د کومې نه چې بچ کيدل ډير ګران دي. (1)

معلومه شوه چې د چغلئ او د متيازو د دارو نه ځان نه بچ کول داسې ګناهونه نه دي د کومو نه چې بچ کيدل ډير ګران وي **خو افسوس**! نن سبا حالات ډير خراب دي، په اوسني وخت کښې نيکي ډيره ګرانه او ګناه ډيره آسانه شوې ده. داسې ګناهونه د کومو نه چې بچ کيدل ګران نه دي، زمونږه معاشره د هغه ګناهونو په ولقه کښې هُم راغلې ده. ✿ **چغلئ ته اوګورئ**! د فساد د پاره د يو ګس خبره بَل ته رَسَوَلو ته چغلي وئيلے شي.(2) ✿ چغلي ناجائزه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. (3) **خو افسوس**! زمونږه حالت داسې دے چې ✿ بس دوه ګسان چرته کښيني نو غيبت، چغلي [شروع شي] ✿ په کورونو کښې غيبتونه، چغلياني ✿ په بازار کښې دکانداران په خپل مينځ کښې د يو بَل چغلي کوي ✿ په دفترونو کښې غيبتونه، چغلياني ✿ د دوستانو سره په ناسته کښې غيبت، چغلي ✿ غرض چې دا ګناهونه دومره زيات دي چې **بس د الله پناه...!!** نن سبا د دې نه بچ کيدل هم ډير ګران دي. په سوچ سره د خبرې کولو خو عادت بالکل د نشت



1... بخاری، كتاب الجنائز، باب الجريد على القبر، صفحه: 381، حديث: 1361۔

2... الحديقة الندية، القسم الثانی، المبحث الاول، النوع السابع فی النميمة، جلد: 4، صفحه: 63۔

3... الحديقة الندية، القسم الثانی، المبحث الاول، النوع السابع فی النميمة، جلد: 4، صفحه: 64 بتصرف۔

www.dawateislami.net

برابر دے، لہٰذا ښه تعليم يافته هم په خبرو کښې بے احتياطي کوي ❁ غيبت کوي ❁ چغلي کوي ❁دروغ وائي خو اندازه قدرېي هُم ورته نه وي چې ”**ما چې اوس څه اووئيل، دا څومره خطرناک جُرم دے**“ بس ژبه خوزي او په ګناه پسې ګناه کيږي. ❁ **هُم دغه شان د مِتيازو د دارو نه د ځان نه ساتلو معامله ده.** ❁ غير مُهَذَّبه خلق په کوڅو کښې ديوالونو ته متيازې کوي، د دې بے شرمئ کار کښې چې يو خوا نورې ډيرې زياتې بدئ دي نو بل خوا د ميتيازو د دارو نه ځان نه ساتل هم ډير ګران دي عموماً داسې کوونکي د متيازو د دارو نه د بچ کيدو خپل خيال هم نه ساتي ❁ بعضې ځل ***W.C*** (يعنې په واش رُوم کښې د کښيناستو سيټ) کم ژور لګولے شي، په دې حالت کښې هم خاص طور ښځې د ناپاکه دارو نه ساتل ګران وي، څوک چې د پاکئ او ناپاکئ په احکامو نه پوهيږي يا چې څوک د نـمونځ عادت لرونکي نه دي، د هغوئ عموماً دې اړخ ته پام هم نه وي، د واش روم نه پس خو لاس وينځي خو ښځې يـې ناپاکه پاتې شي ❁ بلکې اوس خو په ولاړه د متيازو کولو رجحان ورځ په ورځ زياتيږي، خاص طور په ائير پورټ او نورو ځايونو کښې په ولاړه د متيازو کولو خاص انتظام وي [دا هُم غير مهذّبه طريقه ده]، په دې حالت کښې هم بدن او جامې د متيازو د ناپاکه دارو نه بچ کول ګران کار دے. **ياد ساتئ! ځان د متيازو د دارو نه نۀ بچ کول سخته ګناه ده.** د غيبو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **د متيازو نه بچ اوسئ! عام طور د قبر عذاب په هُم دې وجه کيږي.** (1)



1 ... سنن الدار قطنی، کتاب الطهارة، جلد:1، صفحه:98، حديث:458۔

www.dawateislami.net

## د قبر د عذاب درې بنيادي اسباب

حضرت قَتَادہ رضی اللہ عنہ فرمائي: مونږ ته وئيلے شوي دي چې د قبر عذاب په دريو حصو کښې تقسيم کړے شوے دے **(1):** په دريو کښې يوه حصه عذاب د غيبت په وجه **(2):** يوه حصه عذاب د چغلئ په وجه **(3):**او يوه حصه عذاب د متيازو (د دارو نه د ځان نه ساتلو) په وجه وي.[1]

## د وور ميخونه

د حضرت حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ پۀ لاس مبارک باندې يو داسې د کفنونو غل توبه وکړه چې هغۀ پۀ سوونو کفنونه غلا کړي وو. د حضرت حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ پۀ پوښتنه هغۀ د دريو قبرونو خطرناک واقعات بيان کړل. پۀ هغې کښې د يو قبر حال هغۀ داسې بيان کړو چې يو ځل ما يو قبر وکنستو نو پۀ هغې کښې ډير خطرناک منظر وو. مړي د شاټ پۀ لور ژبه راويستې وه او د هغۀ پۀ بدن د وور ميخونه وهلے شوي وو. غيبي اواز ووئيل: **دۀ به غيبت کولو، چغلي به يې کوله او خلق به يې پۀ خپل مينځ کښې جنګول.**[(2)]

| | |
|---|---|
| بد گمانی، جُھوٹ، غیبت ، چغلیاں | چھوڑ دے تُو رَبّ کی نافرمانیاں |
| ہو گیا تجھ سے خُدا ناراض گر | قبر سُن لے آگ سے جائے گی بھر |

## پاکوالے، صفائي سوترائي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پۀ مونږ ټولو باندې لازم دي چې د قبر د



[1]… موسوعة ابن ابي الدنيا، كتاب:الغيبة والنميمة، جلد:4، صفحه:355، حديث:52۔

[2]… کفن چور کے انکشافات، ص ۲۔

www.dawateislami.net

عذاب نه د بچ کيدو د پاره د غيبت نه هم ځان بچ ساتو، د چغلۍ نه هم ځان بچ ساتو او ورسره ورسره د قبر د عذاب يو بَل سبب هم بيان شو: [يعنې] د مِتيازو د دارو نه نۀ بچ کيدل.--!! د دې بد کار نه بچ کيدل هم لازمي او ضروري دي. ❁ يقيناً دا د ظاهري پاک والي او د انسانيت تقاضا هم ده ❁ او د شريعت حکم هم دے ❁ چې کوم کَس صفا سوتره اوسي هغه د **الله** پاک پۀ نزد د تعريف قابل دے ❁ که مالداري وي او که غريبي پۀ هر حال کښې صفائي سوترائي د انسان عزت دے ❁ د هر يو مسلمان دا اِسلامي ځنبه ده چې هغه هر وخت د خپل بدن، د خپل کور او سامان، د خپلې دروازې او دالان وغيره د هر يو څيز د پاکۍ او صفايۍ سوترايۍ خيال وساتي ❁ ګندګي د انسان د عزت او د عظمت بد ترين دښمن دے ځکه هر يو نارينه او زنانه له هميشه د صفايۍ سوترايۍ عادت اختيارول پکار دي ❁ د صفايۍ سوترايۍ سره صحت ښه کيږي ❁ او پۀ سوؤنو بلکې پۀ زرګاو بيمارۍ لرې کيږي.

❁ حُضُورِ پاک صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **الله**، پاک دے، پاکي خوښوي، سوتره دے او سوتره والے خوښوي. [1] ❁ پۀ يو حديث شريف کښې ارشاد دے: اَلطَّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَان يعنې پاکي نيم ايمان دے.[2] ❁پۀ يو **حديثِ پاک** کښې دي چې اَلنَّظَافَةُ تَدْعُوْاِلَى الْاِيْمَانِ پاکي د ايمان پۀ لور رابلل



[1]...(جامع الترمذی، کتاب الادب، باب ماجاء فی النظافة، ۴/۳۶۵، الحدیث ۲۸۰۸)۔
[2]...مسلم، کتاب الطھارۃ، باب فضل الوضوء، صفحہ:106، حدیث:223۔

کوي.[1] ✿ د دواړو جهانونو د سردار صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:
بُنِيَ الدِّيْنُ عَلَى النَّظَافَةِ يعني د دِين بنياد پۀ طهارت باندې دے.[2]
اللّٰه پاک دې مونږ ته د صفايۍ ستراييۍ او د پاکۍ توفيق راعطا کړي.
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د بے اودسه نـمونځ کولو وبال

حضرت عَمرو بن شُرَحبِيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو کَس مړ شو، خلقو هغه پرهيزګاره ګڼو خو چې کله هغه پۀ قبر کښې ښخ کړے شو نو فرښتو ووئيل: چې مونږ به تا د عذاب 100 کوړې وهو. هغۀ ووئيل: تاسو به ما ولې وهئ، آيا زۀ پرهيزګاره نه ووم؟ فرښتو اووئيل: څه! پنځوس کوړې به دې اُووهو. داسې د هُغه کَس او د فرښتو ترمينځه خبرې کيدې، تر دې چې خبره يوې کوړې له راغله، آخر دا چې فرښتو هغه يوه کوړه ووهلو. صرف د هُغې يوې کوړې وهلو سره پۀ قبر کښې وور بَل شو او هغه مړے وسوزيدو او اِيره شو. هغه بيا خپل مخکښيني حالت ته راوستے شو. بيا هغۀ پوښتنه وکړه چې تاسو دا يوه کوړه زۀ پۀ څۀ وجه اُووهلم؟ فرښتو ووئيل: **يوه ورځ تا بے اودسه نـمونځ کړے وو او يوه ورځ يو مظلوم ستا نه مدد غوښتے وو خو تا د (طاقت باوجود) د هغۀ مدد نه وو کړے.**[3]

اَللّٰهُ اَکْبَرْ! وګورئ! څومره سخته خبره ده، هُغه کَس نـمونځونه کول، نيک



1...(فيض القدير ٣/٣٥٦)۔
2...(الشفاء بتعريف حقوق المصطفى، ١/٦١)۔
3...(مصنف ابن ابی شيبة، كتاب الزهد، كلام علقمة، ٨/٢١٥، حديث: ١٣)۔

www.dawateislami.net

کارونه به يـې کول، د ګناهونو نه به يـې ځان ساتلو، نيک وو، پرهيزګار وو خو.-!!

عدل کریں تا تھر تھر کنبن اُچیاں شاناں والے

مفهوم: يعني الله پاک که چرې انصاف ووفرمائي (يعني صرف په خپل رحمت مو اونه بخښي بلکې د اعمالو حساب واخلي) نو ډير لوئي شان لرونکي به هم د ويرې نه په لړزان شي.

د هغه نيک ګس نه غلطي شوې وه، يوه ورځ هغۀ بے اودسه نـمونځ کړے وو، ځکه دومره سخت عذاب ورکړے شو.--!! فرښتو هغه صرف يوه کوړه ووهلو، چې د هغې سره په قبر کښې وور بَل شو او هغه مړے وسوزيدو اِيره شو.--!! اَلْاَمَان وَالْحَفِيظ...!!

الله پاک دې مونږ د قبر د عذاب نه محفوظ وساتي! مونږ له پکار دي چې اودس په صحيح طريقه سره کوو.--!! افسوس چې نن سبا د عِلمِ دِين طرف ته توجّه نشته، د دُنيا عِلم خو ښه ډير راځي خو د دِين زده کولو د پاره راسره وخت نه وي.--!! کيدے شي چې صرف په زرګاؤ نۀ بلکې په لکونو مسلمانان داسې وي کومو له چې په صحيح طريقه اودس هم نه ورځي، آؤ جي! دا رښتيا دي ❀ په لکونو مسلمانان به داسې وي کومو ته چې به د اودس فرائض هم معلوم نه وي ❀ بيا دلته د زر زر اودس کولو عادت هم ډير عام دے ❀ اَوَّل خو چا سره جومات ته د راتلو د پاره وخت نه وي، بيا څوک چې راشي په هغوئي کښې هم زياتره زر زر اودس کوي ❀ د څوک ښنګلې سمې نۀ وينځي ❀ د چا کِيتهو ته اوبه نه رَسي ❀ بعضې خو په مخ باندې بس ترمکيا وکړي او دا ګڼي چې مخ يـې وينځو خو د تندي په څۀ

حصه او ❁ د زَنې پهٔ څهٔ حصه باندې سمې اوبه نهٔ بهيوي، داسې پهٔ تادی تادی کښې څهٔ نيمګړے اودس وکړي او نــمونځ شروع کړي.--!! ياد ساتئ چې اودس د نــمونځ چابي ده، که اودس پوره نه وي شوے نو نــمونځ د سَره نه کيږي. خو افسوس چې مونږ اودس زده کړو، د دې د پاره راته هډو وخت نه ميلاويږي، بس هم داسې د نيمګړي اودس کولو سره نــمونځونه کوو او دا راسره هډو فِکر نشته چې دا هم يوه سخته غلطي ده. [ياد ساتئ! پهٔ اودس او غسل کښې د وينځلو نه مُراد هسې معمولي لــمدول نهٔ دي بلکه چې کوم اندام وينځل وي چې د هغې په هره هره حصّه يو يو څاڅکے اوبه وبهيږي، دا يو ځل وينځل شو يعني فرض ادا شو او داسې درې ځل اوبه بهيول سنّت دي]

## د بے اودسه کس نــمونځ نه قبليږي

د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ نه روايت دے، زما او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي: د بے اودسه [کس] نــمونځ نهٔ قبليږي تر دې پورې چې اودس وکړي.[(1)]

مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ د دې **حديثِ پاک** لاندې فرمائي: د قبليدو نه مُراد د نــمونځ جائز کيدل دي (يعنې د چا اودس چې صحيح نه وي، د هغهٔ نــمونځ د سره نه کيږي) بلکې علمائے کرام فرمائي: **د نــمونځ سپک ګڼلو پهٔ وجه قصداً عمداً بے اودسه نــمونځ کول کُفر دے.** [(2)]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❁ د اودس صحيح طريقه زده کولو او د



[1]...(بخاری، ۱/۳۹، حديث ۱۳۵)۔
[2]...(مرآة المناجيح، ۱/۲۴۵)۔

www.dawateislami.net

اودس د فضائلو نه د ځان خبرولو د پاره د امیرِ اهلسنت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله وضوکا طریقہ (حنفی) ولولئ! ❀ دغه شان د دعوتِ اِسلامي پهٔ ديني ماحول کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! طہارت کورس او فیضانِ نماز کورس هم کولے شي، مختصر کورسونه دي، دا کورسونه وکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د اودس، نـمونځ او طهارت وغيره پهٔ باره کښې به مو د فرض عِلمِ دِين زده کول نصيب شي.

عمل کا ہو جذبہ عطا یااِلٰہی! | گُناہوں سے مجھ کو بچا یا اِلٰہی!
دے شوقِ تِلاوت، دے ذوقِ عبادت | رہوں باوُضُو میں سدا یااِلٰہی!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قضا کولو نه پس د نـمونځ کولو وبال

حضرت عَمرو بن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د يو ګس خور وفات شوه نو هغه د غسل او کفن کولو نه پس دفن کړے شوه، چې کله د هغې د دفن کولو نه واپس راغلو نو ورياد شو چې د رقم تيلۍ ترينه پهٔ قبر کښې غورځيدلې ده. هغهٔ د ځان سره يو ګس بوتلو او هديرې ته لاړو او د تيلۍ راويستو د پاره يې د خپلې خور قبر وکنستو! هغهٔ خپل ملګري ته ووئيل چې تهٔ لږ لرې لاړ شه چې زهٔ د خپلې خور حال ووينم. هغهٔ چې يوه ښخته اوچته کړه نو پهٔ قبر کښې يې يو زړهٔ لړزيدونکے منظر وليدو، هغهٔ وليدل چې د خور پهٔ قبر کښې يې د وور لـمبې بَلې دي! هغهٔ پهٔ څهٔ طريقه پهٔ قبر باندې خاورې واچولې او د ډير غم پهٔ حالت کښې پهٔ ژړا خپلې مور له راغلو او پوښتنه يې وکړه چې مور جانې! زما د خور اعمال څنګه وو؟ هغې

ووئيل: څويه پوښتنه ولې کوې؟ عرض يـې وکړو: ما د خپلې خور په قبر کښې د وور لـمبې ليدلې دي. دا يـې چې واوريدل نو مور يـې هم په ژړا شوه او اوئې وئيل چې افسوس ❁ ستا خور به په نـمونځ کښې سستي کوله او ❁ نـمونځ به يـې د قضا کولو نه پس کولو او ❁ زما په خيال بے اودسه به يـې هم کولو او ❁ د ګاؤنډيانو دروازو ته به يـې غوږ کيښودو او د هغوئې د راز خبرې به يـې اوريدلې. (1)

## د بے نـمانځه کس انجام

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په دې عبرتناکه او د سبق نه ډکه واقعه باندې لږ غور وکړئ! سوچ وکړئ چې د نـمونځونو د قضا کولو نه پس د کولو سزا دا ده چې د هغه قبر د دوزخ کنده جوړيږي نو د بيخي نـمونځ نه کوونکـو به څومره خطرناک انجام وي. د حضرت امام حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيه په خدمت کښې د کفنونو يو غل حاضر شو او توبه يـې کړه او خپله واقعه يـې بيان کړه چې په يوه موقع چې کله ما د کفن غلا کولو په غرض قبر وکنستو نو يو تور مړے راپاڅيدو او ژبه يـې راويستلې وه! د هغهٔ نه ګير چاپيره وور بَل وو، فرښتو د هغهٔ په غاړه کښې زنځيرونه اچولي وو او ولاړې وې. هُغه کَس چې زهٔ وليدم نو اوئې وئيل: وروره! زهٔ سخت تږے يم اوبه راباندې وڅښه. فرښتو ما ته ووئيل: **خبردار چې دې بے نـمانځه له اوبه ورنـکړې.** بيا ما همت وکړو او د مړي نه مې پوښتنه وکړه: تهٔ



[1]...(کتابُ الکبائِر ص۲۶، مکاشَفَۃُالقُلوب ص۱۸۹، موسوعۃ ابن ابی الدنیا، ۷۵/۶، حدیث:۹۷)۔

www.dawateislami.net

څوک وي او ستا جرم څۀ دے؟ هغۀ جواب راکړو: زۀ مسلمان ووم خو افسوس چې ما د **اللّٰه** پاک ډيرې نامرمانۍ کړې دي او زما پۀ شان ډير ګنهګاران پۀ عذاب کښې ګرفتار دي. (1)

## د بے نـمانځه کس خوفناک انجام

اللّٰه! اللّٰه! اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د خپلو نـمونځونو فِکر وکړئ! ❀ بے شکه د بے نـمانځه نه **اللّٰه** پاک ناراضه کيږي ❀ څوک چې قصداً عمداً يو نـمونځ پريږدي د هغۀ نوم د دوزخ پۀ دروازه وليکلے شي ❀پۀ نـمونځ کښې سستۍ کوونکے به قبر داسې دباوهي چې د هغه پوښتۍ به ماتې شي او پۀ يوه بله کښې به پيوستې شي ❀ د هغه پۀ قبر کښې به وور بل کړے شي ❀ پۀ هغه باندې به يو ګنجے مار مُسلط کولے شي ❀ د قيامت پۀ ورځ به د هغۀ حساب پۀ سختۍ سره اخستے شي.

بے نَمازی تیری شامت آئے گی | قبر کی دیوار بس مل جائے گی
کرلے توبہ ربّ کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

## وحشت ناک کوهے

ياد ساتئ چې دا د بے نـمانځه د پاره د قبر عذاب دے او پۀ آخرت کښې به څۀ عذاب وي، هغه هم واورئ! پۀ سيپاره نمبر 30، سُوْرَةُ الْمَاعُوْن څلورم او پينځم آيت کښې ارشاد دے:

323

[1]...(کفن چوروں کے انکشافات ص ۳)۔

فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّيۡنَ ۙ﴿۴﴾ الَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ ۙ﴿۵﴾ (پاره:30، الماعون:4،5)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو د هُغه لـمونځ کوونـکو د پاره خرابي ده، کوم چې د خپل لـمانځه نه غافل دي.

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ علیه د دې آيت لاندې ليکي: ❀ نـمونځ بيخي نه کول ❀ پهٔ پابندی سره نه ادا کول ❀ پهٔ صحيح وخت باندې نه ادا کول ❀ نـمونځ پهٔ صحيح طريقه باندې نه ادا کول ❀ پهٔ شوق سره نه ادا کول ❀ د پوهيدلو نه بغير کول ❀ پهٔ سستیٔ بے پرواهیٔ سره کول. دا ټول د نـمونځ نه د غفلت صورتونه دي. (1)

## دوزخ ته د تللو حکم

منقول دي چې د قيامت پهٔ ورځ به يو کَس د الله پاک پهٔ بارګاه کښې ودرولے شي، الله پاک به هغهٔ ته دوزخ ته د تللو حکم ووفرمائي. هغه به عرض کوي: يا الله پاکه! زهٔ ولې دوزخ ته ليږلے کيږم؟ ارشاد به وشي: **نـمونځونه د هغو د وخت تيرولو نه وروستو کولو پهٔ وجه او زما د نوم د دروغو قَسمونو خوړلو پهٔ وجه.** (2)

## نـمونځ د دِين ستَن ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږه مسلمانان يو او پهٔ يو مسلمان باندې روزانه پينځهٔ نـمونځونه فرض دي. د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنه نه روايت دے چې يو ګَس عرض



1...(نورُالعرفان ص۹۵۸)۔

2...(مکاشفۃُ القُلوب ص۱۸۹ دارالکتب العلمیۃ بیروت)۔

www.dawateislami.net

وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ! د **الله** پاک په نزد د ټولو نه زيات خوښ څيز څۀ دے؟ اوئې فرمائيل: په وخت نـمونځ کول او چا چې نـمونځ پريښودو د هغۀ هيڅ دِين نشته. نـمونځ د دِين ستَن ده. (1)

## د نمونځ برکتونه

**معلومه شوه** چې نـمونځ د مسلمانانو د پاره ډير اهم فرض دے خو افسوس چې نن زمونږ جوماتونه وران دي، **الله** پاک دې توفيق راکړي چې مونږ هم ټول نـمونځونه د جَمعې سره په جومات کښې ادا کوونکي جوړ شو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د دې به بے شميره برکتونه رانصيب شي ❀ يقيناً نـمونځ د دِين ستَن ده ❀ نـمونځ د **الله** پاک د رضا سبب دے ❀ د نـمونځ سره رحمت نازليږي ❀ د نـمونځ سره ګناهونه معاف کيږي ❀ نـمونځ د بيمارو نه بچ کوي ❀ نـمونځ د دعاګانو د قبليدو سبب دے ❀ د نـمونځ سره په رزق کښې برکت راځي ❀ نـمونځ د تيارۀ قبر رڼا ده ❀ نـمونځ د قبر د عذاب نه بچ کول کوي ❀ نـمونځ د جنّت کُنجي ده ❀ نـمونځ د پلِ صراط د پاره اساني ده ❀ نـمونځ د دوزخ د عذاب نه بچ کول کوي ❀ نـمونځ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو يخ والے دے ❀نـمونځ ګزاره ته به د تاجدارِ رسالت صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم شفاعت نصيب کيږي او ❀ د نـمونځ ګزاره د پاره د ټولو نه لوئې نعمت دا دے چې هغۀ ته به د قيامت په ورځ د **الله** پاک ديدار نصيب کيږي. (2)



1...(شعب الایمان، باب الحادی والعشرون من شعب الایمان...الخ، ۳/۳۹، الحدیث:۲۸۰۷)۔
2...(شعب الایمان، باب الحادی والعشرون من شعب الایمان...الخ، ۳/۳۹، الحدیث:۲۸۰۷)۔

www.dawateislami.net

لهٰذا که په ژوند کښې مو چرته نـمونځ قضا کړے وي نو د هغې نه توبه کړئ او آئنده په وخت باندې او د جَمعې سره د نـمونځ کولو اهتمام کوئ، قضا نـمونځونه به څنګه راګرځوئ د دې د پاره د اميرِ اهلِسنُّت مولانا محمد الياس عطار قادري دامت رساله قضانمازوں کا طریقہ (حنفی) ولولئ!

| | |
|---|---|
| اندھیری قبر کا دل سے نہیں نکلتا ڈر | کروں گا کیا جو تُو ناراض ہو گیا یا ربّ! |
| گناہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یا ربّ! |

## د ملاوټ او خيانت کوونکي عبرت ناک انجام

حضرت عبدُ الحميد بن محمود رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د حضرت عبد الله ابنِ عبّاس رضی اللہ عنہما په خدمت کښې څه خلق حاضر شول او عرض يـې وکړو: مونږ د حج په سفر باندې راوتي يو، په مقامِ صِفاح کښې زمونږ د قافلې يو کَس وفات شوے دے. مونږ چې کله د هغهٔ د پاره قبر وکنستو نو دومره غټ تور مار مو پکښې پروت وليدو، چې [ټول] قبر يـې ډک کړے وو، هغه مو پريښودو او بَل قبر مو وکنستو نو په هغې کښې هم هُغه مار رابنکاره شو. ستاسو په خدمت کښې د دې مسئلې د حل کولو د پاره حاضر شوي يو. حضرت عبد الله رضی اللہ عنہ ووفرمائيل: دا د هغهٔ د خيانت سزا ده کوم چې به هغهٔ کولو. تاسو هغه د هُغه دواړو نه په يو قبر کښې ښخ کړئ، قَسم په خدائے! که تاسو د دُنيا ټوله زمکه هم راوکښنئ نو بيا به هم په هر ځائے کښې هُم دا وِينئ. آخر مونږ هغه هم په هُغه د مار نه ډک قبر کښې ښخ کړو. واپس چې راغلُو او د هغهٔ سامان مو د هغهٔ کور والؤ له ورکړو او د

هغهٔ د کونډې نه مو د هغهٔ د اعمالو پهٔ باره کښې پوښتنه وکړه نو هغې ووئيل: دهٔ به طعام [اينګولے] خرخولو او پهٔ هغې کښې به يـې خيانت کولو داسې چې د هغې نه به يـې د خپل کور والؤ د پاره څهٔ لرې کړو بيا به يـې د کمې پوره کولو د پاره پهٔ هغې کښې هُغه همره ملاوټ کولو. (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دوؤ بدو اعمالو پهٔ وجه د هُغه ګس قبر د دوزخ کنده شوه: (1): خيانت کول (2): ملاوټ کول، دا دواړه هم ډير بد کارونه دي او پهٔ قرآن او حديث کښې د دې نه منع فرمائيلے شوې ده. اللّٰه پاک پهٔ قرآنِ پاک کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ وَ تَخُوْنُوْۤا اَمٰنٰتِكُمْ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ۝۲۷
(پاره:9، الانفال:27)

[مفهوم]ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ايمان والؤ! اللّٰه او رسول سره خيانت مه کوئ او مه قصداً پهٔ خپلو امانتونو کښې خيانت کوئ.

## خيانت د منافقت علامت دے

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: درې خبرې داسې دي چې پهٔ چا کښې وي هغه به منافق وي اګرچې د نـمونځ، روژې پابند ولې نه وي: (1): چې کله خبره کوي نو دروغ وائي (2): چې کله وعده کوي نو ماتوي يـې (3): چې کله امانت هغه ته وسپارلے شي نو خيانت کوي. (2)



1...(شَرحُ الصُّدُور ص ۱۷۴)۔

2...(مسلم، کتاب الايمان، باب بيان خصال المنافق، ص ۵۰، حديث: ۱۰۷)۔

www.dawateislami.net

## د وور دوه غرونه

پهٔ [تفسير] روحُ البيان کښې دي: څوک چې پهٔ ناپ تول کښې خيانت کوي، د قيامت پهٔ ورځ به هغهٔ د دوزخ ژورو [ګندو] ته وغورځولے شي او د وور د دوو غرونو ترمينځه به راوستلے شي او حکم به ورته وشي، چې دا غرونه ناپ کوه او تله! چې کله يې تَلل شروع کوي نو وور به يې وسوزوي.(1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ښه غور وکړئ چې پهٔ مختصر شان ژوند کښې د يو څو پيسو حاصلولو د پاره که د ټکې برکې نه کار واخستے شي نو څومره د خطرناک عذاب خبردارے دے. نن معمولي ګرمي نشو برداشت کولے نو پهٔ دوزخ کښې به د غرونو تودوالے څنګه برداشت کړو! د خدائے د پاره! پهٔ خپل حال باندې رحم وکړئ او د مال د هوس نه لرې اوسئ. ګني حرام مال به پهٔ دواړو جهانونو کښې صرف مصيبت ثابت شي.

## پهٔ تول کولو کښې د بے احتياطۍ پهٔ سبب غضب

حضرت حارث مُحَاسِبِي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ فرمائي: يو غله ناپ کوونکي دا کار پرېښودو او د الله پاک پهٔ عِبادت کښې مشغول شو. چې کله هغه مړ شو نو د هغه بعضې دوستانو هغهٔ پهٔ خوب کښې وليدو او پوښتنه يې ترينه وکړه: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعنې الله پاک ستا سره څهٔ معامله وکړه؟ هغه ووئيل: زما هغه پيمانه پهٔ کومه باندې چې به ما غله تلله، پهٔ هغې کښې زما د بے احتياطۍ پهٔ وجه څهٔ خاوره نخښتې وه او هغه ما د بے پرواهۍ پهٔ وجه نه وه صفا کړې هر



1... تفسير روح البيان، ۱۰/۳۶۴۔

ځل د تول کولو پهٔ وخت به د هٔغې خاورې برابر تول کم کيدلو. د دې قصور پهٔ وجه زه پهٔ غضب کښې ګرفتار يم. (1)

## د قبر نه د چغو اواز

هم دغه شان يو بَل ګَس به هم خپله تَله د خاورې وغيره نه نهٔ پاکوله او هم دغه شان به يـې خيز تَللو. چې کله هغه مړ شو نو د هغهٔ پهٔ قبر کښې هم عذاب شروع شو. تر دې پورې چې خلقو د هغهٔ د قبر نه د چغو اوازونه واوريدل. بعضې نيکانو خلقو چې د قبر نه د چغو اواز واوريدو نو رحم يـې پرې راغلو او هغوئي د هغهٔ د پاره د بخښنې دعا وکړه نو د هغې پهٔ برکت **الله** پاک د هغهٔ نه عذاب لرې کړو. (2)

## د حرامو ګټه چرته ځي؟

د دې واقعاتو او روايتونو نه به هٔغه خلق ضرور درسِ عبرت حاصل کړي څوک چې د تَکَي برکَي نه کار اخلي او کم تول کوي. د تَکَي کولو او کم ناپ کولو سره بعضې وخت پهٔ ظاهره مال زيات ښکاري خو پهٔ داسې امدن څهٔ! بعضې وخت پهٔ دُنيا کښې هم داسې مال مصيبت جوړ شي. کيدے شي چې د ډاکټرانو پهٔ فيسونو، د بيمارو پهٔ دوايانو، د جيب وهونکو، غلو يا رشوت خورو لاسونو ته دا مال لاړ شي او بيا مَعَاذَالله! انسان د آخرت پهٔ سخت عذاب کښې هُم ګرفتار شي.

323

1...(اَخْلاقُ الصّٰلِحِين، ص۵۶)۔
2...(اَخْلاقُ الصّٰلِحِين، ص۵۶)۔

کرلے توبہ ربّ کی رَحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

## د ملاوټ تعريف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې واقعاتو نه دا هم معلومه شوه چې د ملاوټ کولو په وجه قبر د دوزخ کنده جوړيږي. څکه ضروري ده چې مونږ د ملاوټ نه هم ځان ساتو. د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د ملاوټ نه مُراد دے د خرڅولو وخت کښې د څيز عيب پټول، يا په اصل کښې نقل ګډَوَل. [1]

## څوک چې ملاوټ کوي هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے

حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ فرمائي: حضورِ اقدس صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د غَلې په يو ډيري تيريدلو نو خپل لاس مبارک يې پکښې ووهلو، د رسول الله صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ګوتو مبارکو په هغې کښې څهٔ لمد والے محسوس کړو نو ارشاد يې ووفرمائيلو: اے د غلې والا! دا څهٔ دي؟ هغهٔ عرض وکړو: يا رسولَ الله صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ! په دې باران شوے وو. خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ووفرمائيل: نو لمده غله تا د ډيري د پاسه ولې نه اچوله د پاره د دې چې خلقو ليدلے، څوک چې ملاوټ وکړي هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے. [2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ د دې **حديثِ پاک** لاندې ليکي: غالباً هٔغه دکاندار ته دا معلومه نه



1...(مراٰۃ المناجیح،۵/۲۵۴)۔

2...(مسلم،کتاب الایمان،باب قول النبیّ صلی اللہ علیہ وسلم: من غشّنا فلیس منّا،ص۶۵،الحدیث:۱۰۲)۔

وه چې دا هم جرم دے، هغه دا ګڼله چې پخپله لـمدول يـې ګناه ده، او چې په باران باندې قدرتي طور لـمده شي په هغې کښې زمونږ څهٔ ګناه ده؟ د دې **حديثِ پاک** نه دوه مسئلې معلومې شوې: **(1):** دا چې د تجارتي څيز عيب پټول ګناه ده بلکې اخستونکي ته يـې عيب ښکاره کړئ چې که هغه وغواړي نو د عيب سره به يـې واخلي، او که وغواړي نو نه به يـې اخلي **(2):**بله دا چې پهٔ تجارتي څيز کښې عيب پيدا کول هم جرم دے او قدرتي پيدا شوے عيب پټول هم جرم دے. [1]

## پهٔ پئيو کښې ملاوټ کول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ پئيو کښې د ملاوټ کوونکي د پاره هم سخت وعيد راغلے دے، حضور نبي پاک صَلَّى اللّٰہ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے: د خرڅ د پاره چې کوم پيـ وي پهٔ هغې کښې اوبه مهٔ ګډوئ.[2] او د حضرت ابو هريره رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې هغوئي يو ځل پهٔ يو ځائے تيريدلو نو اوئې کتل چې يو کس پيـ خرڅوي، هغوئي رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ چې پيـ وکتل نو پهٔ هغې کښې اوبه ګډې کړے شوې وې نو هغوئي رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ هغهٔ ته ووفرمائيل: هُغه وخت به ستا څهٔ حال وي چې کله د قيامت پهٔ ورځ تا ته ووئيلے شي چې د پئيو نه اوبه بيلې کړه--!! [3]



1...(مرآۃ المناجیح،۴/۲۷۲،ملخصاً)۔
2...(شعب الایمان للبیہقی، باب فی الامانات ووجوب ادائھا الی اہلھا، ۴/۳۳۳،الحدیث:۵۳۰۸)۔
3...(شعب الایمان للبیہقی، باب فی الامانات ووجوب ادائھا الی اہلھا، ۴/۳۳۳،الحدیث:۵۳۱۰)۔

www.dawateislami.net

اے ملاوٹ کرنے والے مان جا | خود کو یوں دوزخ کا ایندھن مَت بنا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو واوريدل چې چا په پئيو كښې اوبه ګډې کړې او بيا يې هغه خرڅ کړل هغهٔ ته به د قيامت په ورځ وئيلے شي چې د پئيو نه اوبه اوباسه حالانکې هغهٔ به د هغې طاقت نه لري.

## په پئيو کښې د ملاوټ كولو سره د ښاروو هلاکيدل

حضرت علامه عبد الرحمان ابن جوزي رحمةُ الله عليه ليکي: په يو کلي کښې يو پيۍ خرڅوونکے وو، د هغهٔ عادت وو چې په پئيو کښې به يې اوبه ګډولې. يو ځل سيلاب راغے او د هغهٔ ښاروي (مينبې، غواګانې، چيلۍ وغيره) يې يوړل نو هغهٔ ژړل او وئيل يې چې ټول څاڅکي يو ځائے شول او سيلاب ترې جوړ شو [او زما ټول ښاروي يې يوړل].

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ګستاخِ صحابه انجام

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قبر د عذاب د يو لوئي سبب د صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم او د نيکانو خلقو ګستاخي هم ده. حضرت ابو اِسحاق رحمةُ الله عليه فرمائي: زهٔ يو مړي ته د غسل ورکولو د پاره وغوښتے شوم، چې ما کله د هغهٔ د مخ نه کپړه لرې کړه نو اومې کتل چې د هغهٔ د مرۍ نه يو مار راتاؤ شوے وو، خلقو ووئيل چې دې ګس به صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم ته کنځل کول.(1)



1...(شرح الصدور (مترجم) ص٣٠٧۔

www.dawateislami.net

پهٔ يو روايت کښې دي چې دغه کس به ښخوانو بزرګانو ته کنځل کول.[1]

## د صحابي د قبر د بے ادبئ کوونکي انجام

حضرت امام اَعمَش رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: يو کَس د حضرت امام حسن بن علي رضی اللہ عنہما پهٔ مبارک قبر باندې مِتيازې وکړې نو هغه ليونے شو او د سپو پهٔ شان بې يے غَپل، بيا هغه مړ شو خو د هغهٔ د قبر نه د چغو او د غپيدو اواز واوريدے شو.[2]

## صحابه د اسمانِ هدايت ستوري دي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مَعَاذَ الله! صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم ته کنځلې کول سخته ګناه ده، خپل قبر د دوزخ کنده جوړول او دوزخ ته بوتلونکے کار دے.[3] صحابهٔ کرام د ټول جهان د مسلمانانو نه افضل دي. دا هُغه مبارکې هستيانې دي چې د دوئي پهٔ باره کښې چې زمونږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: اَصْحَابِیْ کَالنُّجُوْمِ بِاَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمْ اِهْتَدَيْتُم يعنې زما صحابه د ستورو پهٔ شان دي نو تاسو چې پهٔ دوئي کښې د چا پيروي هم کوئ هدايت به بيامومئ.[4]

اعلٰی حضرت امام اهلسنّت امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي:

323

1...موسوعۃ ابن ابی دنیا، کتاب القبور، جلد:6، صفحہ:83، رقم:129۔
2...(شرح الصدور (مترجم) ص310۔
3...(شرح الصدور (مترجم) ص310۔
4...(مشکاۃ المصابیح ۳/۳۱۰)۔

اہلسنّت کا ہے بَیڑا پار اَصحابِ حُضُور | نجم ہیں اور ناؤ ہے عِترَت رسول اللہ کی

**وضاحت:** یعني د اهلسنَّت بیړۍ پوریوتې ده ځکه چې صحابهٔ کرام رضی اللہ عنھم د هغوئي د پاره د ستورو په شان او اهلِ بیت اطهار رضی اللہ عنھم د کشتۍ په شان دي او په سمندري سفر کښې چې کشتۍ هم وي او د لارې لټولو د پاره ستوري هم وي نو کشتۍ نه ډوبیږي بلکې خپل منزل ته رَسي.

## د صحابهٔ کرامو په ګستاخ باندې لعنت دے

د مدینے سرکار، د زړونو قرار صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائیلي دي: په هغهٔ باندې د **اللّٰه** پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے څوک چې زما یو صحابي ته هم کنځل وکړي. (1) او په یو **حدیثِ پاک** کښې دي: چې کله تاسو دوئي ووینئ چې زما یو صحابي ته هُم بد وائي نو تاسو وایئ چې ستاسو په شر باندې دې د **اللّٰه** لعنت وي. (2)

یعني صحابهٔ کرام رضی اللہ عنھم خو خیر او صرف خیر دي تاسو هغوئي ته بد وایۍ نو هغي بد هم ستاسو په لور بیرته راګرځي او د هغې وبال [یعني مصیبت] هم په تاسو پریوځي. (3)

323

1...(کنزالعمال،۱۱/۵۳۰،الحدیث ۳۲۴۷۴)۔
2...(ترمذی،۳۶۶/۱۲،الحدیث ۳۸۰۱)۔
3...(مراۃالمناجیح،۸/۳۴۴)۔

| | |
|---|---|
| هر صحابِي نبي! جنتي جنتي | تړولې صحابياتې هُم! جنّتي جنّتي |
| څلور ياران د نبي! جنّتي جنّتي | حضرت صِدّيق هُم! جنّتي جنّتي |
| او عمر فاروق هُم! جنّتي جنّتي | عثمانِ غني! جنّتي جنّتي |
| فاطمه او علي! جنّتي جنّتي | حَسَن او حُسَين هُم! جنّتي جنّتي |
| والدين د نبي! جنّتي جنّتي | هره زوجۀ نبي! جنّتي جنّتي |
| حضرتِ معاويه! جنّتي جنّتي | او ابوسُفيان هُم! جنّتي جنّتي |

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قبر د عذاب نور هم ډېر اسباب دي، الله پاک دې مونږ ته د دې ټولو بدو نه د بچ کيدو توفيق راعطا کړي. الله پاک دې وکړي چې مونږ تر مرګه پورې د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو او د ټولو بزرګانِ دِين (اوليائے کرامو، علمائے کرامو او نيکانو خلقو) با اَدبه پاتې شو. کاش چې د قبر او د دوزخ د عذابونو نه د ازادئ زيرے راباندې وشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مَدَني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو او نيکانو خلقو محبت پۀ زړۀ کښې د زياتولو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! زړۀ به مو روښانه شي، عشقِ رسول به مو نصيب شي، د الله پاک محبت به مو نصيب شي او د دِين او دُنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي. د دعوتِ اِسلامي پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مَدَني مذاکره هم ده.

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د ماسخوتن د نـمانځه نه پس پهٔ مَدَني چينل باندې نيغ پهٔ نيغه (*Live*) د سوال او جواب سلسله فرمائي. تاسو هم پهٔ مَدَني چينل پهٔ پابندی سره د مَدَني مذاكرې د كتو، اوريدو كوشش كوئ.

## د ماډرن ځلمي توبه

د منډي بهاؤ الدين (صوبه پنجاب، پاكستان) د اوسيدونكي د يو اِسلامي ورور د ليكلو خلاصه ده چې د دعوتِ اِسلامي ماحول ته د راتلو نه مخكښې ما د ګناهونو پهٔ هلاكيدونكې دره كښې ټوګرې خوړلې. هر وخت به مې پهٔ زړهٔ او دماغو كښې د فيشن خيال وو او د نيكو نه لرې د دنيا پهٔ رنګينو كښې مې ژوند بربادولو. يو ځل يو مبلغ دعوتِ اِسلامي پهٔ آخري عشره كښې د اجتماعي اعتكاف ډير ترغيب راكړو، هم دا رنګې د الله پاک پهٔ فضل او كرم سره زما د اعتكاف سعادت نصيب شو، د اجتماعي اعتكاف خوندور ماحول، زړهٔ راښكونكو بيانونو، د پيشمنې او روژه ماتي روحاني نظارو ډير خوند راكړو، پهٔ كرم د پاسه كرم دا چې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه علمي او روحاني مدني مذاكرو او د ژړا نه ډكو دُعاګانو مې د زړهٔ نه د ګناهونو زنګ صفا كړو. زما د ګناهونو پهٔ تيارهٔ ژوند كښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رڼا راخوره شوه. ما د خپلو ګناهونو نه رښتونې توبه وكړه او د امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مې د بيعت شرف حاصل كړو، اَلْحَمْدُ لِله! ګيره مباركه مې پريښوده، عمامه مې پهٔ سر كړه او د سُنَّتو ډک ژوند

تيرولو د پاره مې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول اختيار کړو.[1]

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غَفّار! مدینے کا[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم د عِلمِ دِين ښودلو او د نيکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي. د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اينډ تفسير) دے. په دې ايپلي کيشن کښې ❁ مکمل قرآنِ کريم ❁ د اعلیٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلې ترجمهٔ کنز الايمان ❁ اسانه ترجمه کنز العرفان او ❁ په اسان انداز کښې ليکلے شوے تفسير **صِرَاطُ الـجنان** شامل دے. ❁ قرآنِ کريم، ترجمه او تفسير په آډيو ***(Audio)*** کښې هم اوريدے شئ. ❁ هره ورځ تلاوت کيدونکي سورتونه بيل جمع کړے شوي دي ❁ د مَدَني چينل تفسيرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ايپلي کيشن په ذريعه په اسانۍ سره کتے شئ ❁ نور دا چې قرآني آيتونه، ترجمه او تفسير په وټس ايپ ***(Whats App)*** او په فيس بُک

323

[1]...بد چلن کیسے تائب ہوا؟، صفحہ:12تا14.بتغیر۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:180۔

(***Facebook***) وغیره باندې د خپلو دوستانو سره شیئر کولے هم شئ. دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِین زده کړئ او نورو ته رسولو باندې د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د څینو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغۀ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. [1]

هر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے[2]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## کم خوراک سُنَّت دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چې کله بنده په خپل خوراک کښې کمے کوي نو د هغه سینه د نُور نه ډکه کړے شي. [3]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** کم خوراک سُنَّت دے.

✿ زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د لوږې نه کم خوراک کولو

323

[1]...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:115۔
[3]...جامع صغیر، صفحہ:35، حدیث:469۔

❁خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې په دنيا کښې تشريف فرما وو، چرې يـې هم پرله پسې 2 شپې په مړه خيټه نه وه خوړلې ❁رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوږې په وجه په خيټه مبارکه باندې کاڼې تړل.

**د خوراک د مِقدار په باره کښې اَحکام:** ❁ د لوږې نه کم خوراک کول سُنَّت دي [يعنې څۀ نه څۀ لوږه باقي ساتل] ❁ چې څومره لوږه وي، هغه همره خوړل مُبَاح دي (يعنې په دې کښې نه ګناه شته، نه ثواب) ❁ دومره په مَړه خيټه خوړل چې د خيټې خرابيدو ګمان وي، حرام دي ❁دومره په مړه خيټه خوړل چې د خيټې خرابيدو انديښنه نه وي، مکروه دي ❁په خوراک کښې دومره کمے راوستل چې په فرائضو ادا کولو کښې رکاوټ راشي، جائز نه دي. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چَھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| رب کے در پر جُھکیں، اِلتِجائیں کریں | بابِ رَحمت کُھلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.



[1]... بہارِ شَرِیعت، حصہ:16، جلد:3، صفحہ:374 ملخصًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

323

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ١٥١ ملخصًا

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريكه اووائيو.



1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

www.dawateislami.net

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

1 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵